# دا اسراف نُقصانونه

31-March-2023



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

31 مارچ 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# د اسراف نُقصانونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

حضرت ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: يو ځل د سحر په وخت د الله پاك آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نُوراني مخ باندې د خوشحالئ آثار وو، صحابۀ كرامو عَلَیهِمُ الرِّضْوَان چې د دې وجه اوپوښتله نو اوئې فرمائيل: الله پاك پيغام راليږلے دے: اے محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستا چې كوم اُمَّتي په تاسو باندې يو ځل درود اولولي، **زه به د هغه د پاره 10 نيكئ ليكم، د هغه 10 ګناهونه به ورانووم، 10 درجے به ورله اوچتووم او هم دومره رحمت به پرې ليږم.**[1]

اُن پر دُرود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے[2]

**وضاحت:** هغه خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چا ته چې د بے وسو مددګار وئيلے شي، كوم چې د هر بے خبره خبر لرونكے دے، په هغوئي دې درود و سلام وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... مُسْنَد اَحْمد، جلد:5، صفحه:509، حديث:16352۔

[2] حدائقِ بخشش، صفحه:209۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو باندې دے.[1] اے عاشقانِ رَسُول! ښه نیت بنده جنّت ته داخلوي، د بیان اوریدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِیّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❁ د الله پاک د رضا د پاره به بیان اورم ❁ عِلمِ دِین به زده کووم ❁ ټول بیان به اورم ❁ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به باأدبه کښېنم ❁ نصیحت به حاصلووم ❁ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بخښنې يو سبب

يو ځل د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عمر رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ (روژه وه،) هغوئي په زمکه باندې د ډوډئ يو پوټے اوليدلو نو غُلام ته ئې اوفرمائيل: دا را اوچت کړه او صفا ئې کړه! (غلام د ډوډئ پوټے را اوچت کړو، صفا ئې کړو او اوئې خوړلو.) مانښام چې کله د روژه ماتي وخت شو نو حضرت عبد الله بن عمر رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ غلام ته اوفرمائيل: راوړه! هغه د ډوډئ پوټے راکړه! غلام عرض اوکړو: عالي جاه! هغه خو ما خوړلے دے. د دومره وئيلو سره [هغوئي رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ] اوفرمائيل: ځه! اوس ته آزاد ئې.

(بيا هغوئي د دې نوازش سبب بيان کړو او اوئې فرمائيل:) ما د مدينې تاجدار، د زړونو قرار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې فرمائيلو واوريدلو چې څوک د غورزيدلې ډوډئ پوټے را اوچت کړي او اوئې خوري هغه پوټے د هغه ګيډې ته د رسيدو نه مخکښې الله پاک هغه

[1]... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1 ۔

بخښي. اوس چې څوک د بخښنې حقدار شو نو زه هغه څنګه غلام اوساتم؟[1]

اللہ کی رحمت سے سُنّت میں شرافت ہے | سرکار کی سُنّت میں ہم سب کی حفاظت ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## رمضان او اِسراف

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک میاشت شروع ده ❁ دا میاشت د عبادت او ریاضت هم ده ❁ د ذِکر او تلاوت میاشت هم ده ❁ یوه اهمه خبره چې رَمَضَانُ الْمُبَارَک د قناعت میاشت هم ده ❁ په عامو ورځو کښې عام طور خلق 3 وخته طعام خوري خو په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې 2 وخته طعام خوړلے کیږي ❁ په عامو ورځو کښې د ورځې هم چائے، بسکټ وغیره څه نا څه خوړل څښل کیږي خو په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې په دې خرچو کښې تر ډیر حده پورې بچت کیږي. غرض: که چرې مونږه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک فضیلتونو او فائدو ته اوګورو نو دا مبارکه میاشت د قناعت میاشت هم ده خو افسوس! اوس حالات اُلټا دي، نن سبا عام په نظر راځي چې په دې مبارکه میاشت کښې د قناعت په ځائے فضول خرچي زیاته شي، **اِسراف څو چنده زیات شي، طعام، میوې، اوبه، شربت وغیره ډیر زیات ضائع کیږي او دا مَعَاذَ الله! د کچرې ډبو ته غورځولے شي.**

## اِسراف ګناه ده

**یاد ساتئ!** اِسراف (یعني څیزونه ضائع کول، بے دریغه لګول) ګناه او حرام او دوزخ ته

---

[1]... تَنْبِيْهُ الْغَافِلِين، باب الرعاية على ملك اليمين، صفحه:200۔

بوتلونکے کار دے. اللہ پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| كُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٣١﴾ (پاره:8 ، سورۂ اعراف:31) | مفهوم ترجَمۂ کنزُ الایمان: خورئ او څښئ او د حد نه مه اوځئ بے شکه د حد نه وتونکي د هغه خوښ نه دي. |

دغه شان په سیپاره 8: سُورۂ انعام، آیت: 141 کښې ارشاد کیږي:

| | |
|---|---|
| وَلَا تُسْرِفُوْا ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٤١﴾ (پاره:8 ، سورۂ انعام:141) | مفهوم ترجَمۂ کنزُ الایمان: او بے ځایه مه خرچ کوئ بیشکه بے ځایه خرچ کوونکي د هغه خوښ نه دي. |

دغه شان په سیپاره 15: سورۂ بنـي اِسرائیل، آیت: 26 او 27 کښې اللہ پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا ﴿٢٦﴾ اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْۤا اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ ؕ وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ﴿٢٧﴾ (پاره:15 ، سورۂ بنی اسرائیل: 25- 27) | مفهوم ترجَمۂ کنزُ الایمان: او فضول مه الوځوئ بیشکه الوځوونکي (فضول خرچي کوونکي) د شیطانانو ورونړه دي او شیطان د خپل رَبّ ډیر ناشکرا دے. |

اَللّٰهُ اَكْبَر! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! خومره دړیدونکي خبره ده، کوم خلق چې د اللہ پاک راکړے شوي نعمتونه ضائع کوي، د خوراک څښاک، اغوستلو وغیره څیزونه، مال و دولت فضول خرچ کوي، اللہ پاک اوفرمائیل: هغوئي د شیطانانو ورونړه دي او شیطان څوک دے؟ د ټولو نه غټ کافِر، د ټولو نه زیات ناشکرا، د ټولو نه ذلیله چې هغه د اللہ پاک نافرماني اوکړه او د همیشه د پاره مردود شو.

د دې نه اندازه اولګوئ چې فضول خرچي کوونکے څومره بد انسان دے چې الله پاک هغه ته د شیطان ورور فرمائیلے دے.

## اِسراف څه ته وائي؟

خوږواو محترمو اسلامي وروڼو! د اِسراف معنٰی ده: په غیرِ حق کښې خرچ کول. یعنې د الله پاک راکړے شوے نعمت چې په کوم ځائے کښې خرچ کول پکار دي، د هغې نه علاوه په بَل یو ځائے کښې خرچ کول، لکه: ❁ د خوراک څښاک څیزونه ضائع کول ❁ په کمره کښې لائټ لګیدلے دے خو هلته لائټ استعمالولو والا څوک هم نشته ❁ د نلکي نه اوبه بهیږي خو د دې حاجت نشته ❁ دغه شان هغه څیزونه کوم چې د استعمال قابل دي یا خوړے کیدے شي لکه د آلو، منې پوستکي وغیره، داسې څیزونه بے د څه وجې غورځول، نه استعمالول وغیره دا ټول څیزونه د اِسراف قِسمونه دي. د اِسراف نه د بچ کیدو په حقله د نورو معلوماتو د پاره د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِیَه رساله **بجلی استعمال کرنے کے مدنی پھول** اولولئ د اِسراف نه د بچ کیدو ذِهن به مو جوړ شي.

## د اِسراف مختلف وضاحتونه

مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د اِسراف ډیر تفسیرونه دي مثلاً: (1) حلال څیزونه حرام کڼل، دا هم اِسراف دے (2) حرام څیزونه استعمالول، دا هم اِسراف دے (3) د ضرورت نه زیات خوړل اغوستل، دا هم اِسراف دے (4) چې څه مو زړه غواړي هغه خوړل څښل، اغوستل (5) شپه ورځ بیا بیا خوړل څښل په کومې چې معده خرابه شي، ناروغه شي، دا هم اِسراف دے (6) ضرر

رسوونڪي ځيزونه خوړل څښل، دا هم اِسراف دے (7): هر وخت د خوړلو څښلو په خيال کښې اوسيدل چې اوس به څه خورم بيا به څه څښم وغيره هم داسې (8) د غفلت د پاره خوړل (9) د ګناه کولو د پاره خوړل (10) د ښه خوراک څښاک، د ښه [جامو، پيزار] اچولو عادت جوړول چې چرې معمولي ځيز اونه خورې اونه څښې، دا هم اِسراف دے، دغه شان (11) ښه خوراکونه د خپل کمال نتيجه ګڼل هم اِسراف دے. نور فرمائي: الله پاک هر اِسراف کوونڪے نه خوښوي. داسې خلق د الله پاک په بارګاه کښې قبول نه دي.[1]

## په ډوډئ کښې د اِسراف صورتونه

امام يُوسُف بن عبدُ الله حنفي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ډوډئ د مينځ مينځ نه خوړل او موړګې [يعني غاړې] ئې پريښودل، د ډوډئ پسته حصه خوړل او نوره پريښودل او د لاس نه غورځيدلې نمرئ را اوچتول او نه خوړل دا هم په اِسراف کښې شامل دي.[2]

آؤ که چرې موړګې ئې اومې پاتې شوې وي، د دې په خوړلو سره به نقصان اوشي نو نيمولے ئې شې، دغه شان که دا معلومه وي چې د ډوډئ موړګې به نور خلق اوخوري نه به ضائع کيږي نو په نيمولو کښې ئې څه باک نشته.[3]

## د اِسراف حکم

**ياد لرئ!** هر اِسراف حرام نه وي، بعضې اِسراف مکروه هم وي، بعضې اِسراف صِرف مکروه [يعني ناخوښه] وي. سيدي اعلٰی حضرت، امامِ اهلِسُنَّت، شاه احمد رضان خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (هغه) اِسراف چې (کوم) ناجائزه او ګناه ده (هغه) صرف (په دې) 2

[1]... تفسير نعيمی، پ 8، سورۂ اعراف، زيرِ آيت :31، جلد:8 ، صفحہ:435 ملتقطاً ـ
[2]... تبيين المحارم، الباب الثامن والخمسون: فی الاسراف، ص338ـ
[3]... بہارِ شريعت، جلد:3 ،صفحہ:377، حصہ:16 بتغير قليلـ

حالاتو کښې وي، يو دا چې په څه ګناه کښې ئې خرڅ او استعمال کړې، دويم [دا چې] بيکاره صرف مال ضائع کړې.[1]

نن سبا دلته زيات دا حرام والا اِسراف موندلے کيږي، ډير زيات خلق د ګناهونو نه په ډکو کارونو کښې خپل مال خرڅ کوي، دا هم د اِسراف حرام صورت دے، دغه شان مال صرف بيکاره ضائع کوي، لکه پاتې شوې ډوډئ کچرې ته غورځوي، په ګلاس کښې پاتې شوې اوبه توئ کوي، بجلي، پکے، اے سي، وغيره بے د څه ضرورته لګيدلي وي، پرواه ئې نه کوي، د دې سره څه کيږي؟ مال ضائع کيږي، ظاهره ده اے سي بے ضرورته لګيدلے دے، د دې د يخ والي نه څوک هډو فائده نه اخلي نو بِل خو به راځي، مال خو به لګي او هغه مال چرته لاړو؟ ضائع شو. ځکه دا هم د اِسراف حرام شکل دے.

## د قيامت په ورځ به د هر نعمت په باره کښې پوښتنه کيږي

آه! کاش! چې مونږ ته د الله پاک د نعمتونو قدر نصيب شي، په دُنيا کښې الله پاک مونږ له په کروړونو نعمتونه راکړي دي نو د دې د پاره چې مونږه ترې فائده واخلو، د دې قدر اوپيژنو او د الله پاک شُکر ادا کړو. د قيامت په ورځ به د دې نعمتونو په باره کښې زمونږ نه پوښتنه کولے شي. الله پاک فرمائي:

ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَىٕذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ﴿۸﴾
(پاره:30 ، سورۃ تکاثُر:8)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: بيا بيشکه خامخا په هغه ورځ به ستاسو نه د نعمتونو په باره کښې پوښتنه کولے شي.

مفسرينِ کرام فرمائي: د قيامت په ورځ به د هر نعمت په باره کښې پوښتنه کيږي، که

[1]... فتاویٰ رضويہ، جلد:1، صفحہ:940 بتغير قليل ۔

هغه نعمت جسماني وي او که روحاني، د ضرورت وي يا د عيش و آرام، تر دې چې د يخو اوبو، د وَنې د سوري او د خوب د راحت په باره کښې به هم سوال کيږي.[1]

## آيا په ما باندې هم څه نعمت دے...؟

صحابئ رسول حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فرمائي: کله چې دا آيت مبارک نازل شو:

ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ﴿۸﴾
(پاره:30 ، سورۀ تکاثُر:8)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: بيا بيشکه خامخا په هغه ورځ به ستاسو نه د نعمتونو په باره کښې پوښتنه کولے شي.

دا ئې چې واوريدلو نو يو محتاجه کَس اودريدو او عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آيا په ما باندې هم څه نعمت دے (د کوم په باره کښې چې به زما نه پوښتنه کيږي) ؟ اوئې فرمائيل: آؤ! سورے، پيزار او يخې اوبه (تاسو هم ميلاؤ شوي دي، د قيامت په ورځ به د دې په باره کښې هم پوښتنه کولے شي).[2]

## د يو وَلِـيُّ الله چې کله دعوت اوکړے شو

حضرت حاتم اَصم رَحْمَةُ اللہِ عَلَيْه د الله پاک ډير لوئے ولي دے، يو ځل يو مالداره کَس هغوئي له د طعام دعوت ورکړو خو هغوئي انکار اوکړو، د هغه په بيا بيا خواست کولو هغوئي دعوت قبول کړو او اوئې فرمائيل: که چرې تهٔ زما درے شرطونه اومنې نو زه به درشم. **وړومبے**: زه چې په کوم ځائے کښې غواړم کښينم به، **دويم**: څه چې مې خوښه وي خورم به ئې، **دريم**: څه چې زه څه اووايم هغه به تهٔ کوې. هغه مالداره دا درې واړه

[1]... تفسير نورُ العرفان ، پاره:30 ، سورۀ تکاثُر ، زيرِ آيت :8 ، صفحه:721 بتغير قليل۔
[2]... تفسير دُرِّ منثور ، پاره:30 ، سورۀ تکاثُر ، زيرِ آيت :8 ، جلد:8 ، صفحه:619۔

شرطونه اومنل. د دعوت په ورځ هغه د خوندور طعام انتظام اوکړو. د الله د ولي د ديدار د پاره ډير خلق هم راجمع شول. په ټاکلے شوي وخت باندې حضرت حاتم اصم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه هم تشريف راوړلو او د راتلو سره د پيزار ويستلو په ځائے کښې کښيناستلو. کوربه دا شرط منلے وو چې **حضرت کوم ځائے کښې غواړي کښيني به** ځکه [کوربه] بے وسه پاتې شو. څه وخت پس ډوډئ ته د کښيناستلو اعلان اوکړے شو نو خلقو قِسما قِسم خوندور خوراکونه شروع کړل خو د الله پاک ولي خپلې لمَن ته لاس ښکته کړو او د وَچې ډوډئ يوه ټکړه ئې راويستله او په خوړلو ئې شروع اوکړه. کوربه په دې ځائے کښې هم څه اونکړے شو.

کله چې ډوډئ سلسله ختمه شوه نوهغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه کوربه ته اوفرمائيل: **سرۂ شوې انګيټئ (يعني چولها) راوړه او په دې باندې يو تبخے کيږده.** د هغوئي په حکم عمل اوکړے شو. کله چې هغه تبخے په اور باندې سُور شو نو هغوئي په دې باندې ښپے ابله ښپې اودريدلو او د خپلې محاسبې شروع کولو سره ئې اوفرمائيل: **ما نن يوه وَچه ډوډئ خوړلې ده او د تبخې نه ئې لاندې تشريف راوړلو.** بيا ئې حاضرينو ته اوفرمائيل: **(د دريم شرط مطابق) اوس تاسو په نمبر نمبر په دې تبخي باندې اودريږئ او د خپل خوراک حساب ورکړئ.** دا ئې چې واوريدل نو خلقو چغې کړې او په يو آواز ئې اووئيل: **حضور! تاسو خو د الله ولي ئې او په دې تود تبخي باندې اودريدل ستاسو کرامت دے، په مونږه ګنهګارانو کښې دومره طاقت چرته دے چې په دې باندې اودريږو؟**

هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د محسابے دعوت ورکولو سره اوفرمائيل: اے خلقو! ✿ هغه وخت راياد کړئ چې کله به لمَر کوم چې کروړونه ميله لرې دے، صرف يوه نيزه بره وي ✿ اوس د هغه مونږ ته شا ده، په هغه ورځ باندې به د هغه بَله حصه زمونږ طرف ته وي ✿ زمکه

به د تانبے وي ❁ د هغه سرې شوې زمکې تَصَوُّر اوکړئ او دې ګرم تبخي ته اوګورئ چې دا خو د دُنيا په اور باندې ګرم شوے دے، د دې تَپ خو د سکروټې په شان د سرې شوې تانبے د زمکې په مقابله کښې هيڅ هم نه دے. بيا هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه دا آيت مبارک تلاوت کړو:

ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ النَّعِيۡمِ ﴿۸﴾
(پاره:30 ، سورۂ تکاثُر:8)

مفهوم ترجَمۂ کنزُ العرفان: بيا بيشکه خامخا په هغه ورځ به ستاسو نه د نعمتونو په باره کښې پوښتنه کولے شي.

دا ئې چې واوريدل نو خلقو په چغو چغو اوژړل.[1]

ګناهوں سے مجھ کو بچایا الٰہی!
خطاؤں کو میری مٹایا الٰہی!
مُطیع اپنا مجھ کو بنایا الٰہی!

بری عادتیں بھی چُھڑایا الٰہی!
مجھے نیک خصلت بنایا الٰہی!
سَدا سُنَّتوں پر چلایا الٰہی!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

اے عاشقانِ رَسُول! واقعي چې د سوچ خبره ده، د قيامت په ورځ به د هر يو نعمت په باره کښې پوښتنه کيږي، آه! نن کيدے شي چې په مونږ کښې څوک هم داسې نه وي چې په تود تبخي باندې يوه ورځ نه بلکه صِرف يوه ګهنټه بلکه صِرف د يو وخت د ډوډئ د خوړلو حساب ورکړي نو لږ غور اوکړئ! که چرې نن مو په دُنيا کښې اِسراف اوکړو، د الله پاک راکړے شوي نعمتونه مو ضائع کول ❁ د اوداسه د پاره کښيناستو او نلکا مو بيرته کړه او بے دريغه اوبه مو ضائع کړې ❁ د مسلمان ورور جوټه شوې اوبه مو بے

[1]... تذکرة الاولياء ، ذکر حاتم اصم ، جز:1 ، صفحہ:222 بتصرف قليل ۔

وجه توئ کړې ❁ د ډوډئ پوټې پریوځي، پریوتي مو پرینښودل ❁ د ضرورت نه مو زیات طعام تیار کړو او وروستو مو د کچرې ډبې ته اوغورځولو ❁ بجلي، پکې وغیره فضول لګیدلي وو، د دې فِکر مو اونکړو ❁ خپل قیمتي مال مو په ګناهونو او فضولیاتو کښې بے دریغه خرچ کړو، آه! که د اِسراف په دې خراب عادت باندې د قیامت په ورځ راګیر کړے شو، زمونږ نه د دې نعمتونو په باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو څه به کوؤ؟ چرته به ځو؟

آه! هغه 50 زره کاله اوګږده ورځ، د اوسپنې سرۀ شوې زمکه، اور وروونکے لمَر، هئ! هئ! په دومره سخته ګرمئ کښې به ښپے سوزي، زړه به خُلے له راځي، دماغ به خوټ کیږي، خلق به په خپلو خوَلو کښې ډوب وي، که چرې په داسې وحشت ناک حالت کښې مونږه اودرولے شو او د اِسراف حساب واخستے شو نو زمونږ به څه کیږي؟ آه! ځنګه به د یو یو نِعمَت حساب ورکوؤ. کاش! چې مونږه نن اویَریږو، کاش! مونږه هم نن توبه کړو او اِسراف او نور ټول ګناهونه پریږدو او په نیکه لار روان شو.

کب گناہوں سے کنارا میں کروں گا یارَبّ!
نیک کب اے مِرے اللہ بنوں گا یارَبّ!
ہائے! معمولی سی گرمی بھی سہی جاتی نہیں
گرمیٔ حَشر میں پھر کیسے سہوں گا یارَبّ!
آج بنتا ہوں معزز جو کُھلے حشر میں عیب
آہ! رُسوائی کی آفت میں پھنسوں گا یارَبّ!

**اے عاشقانِ رَسُول!** اِسراف یعني د څیزونو ضائع کولو او د مال بے ځایه خرچ کولو اُخروي نقصانونه هم وحشت ناک دي، د دې سره سره په دُنیا کښې هم د اِسراف نقصان دے یعني د دُنیا او آخرت په هر قِسم لحاظ سره د اِسراف یو فیصد هم څه فائده نشته، بس تَش نقصان دے.

په دُنيائي لحاظ سره د اِسراف يو غټ نقصان دا دے چې د اِسراف په وجه نعمت ځي او لاس تنګي راځي، په حديثِ پاک کښې دي: د رسولانو سالار، د نبيانو تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: مَنِ اقْتَصَدَ اَغْنَاهُ اللهُ، وَمَنْ بَذَّرَ اَفْقَرَهُ اللهُ يعنې کوم کَس چې (په خرچو کښې) درميانه لاره اختياروي، الله پاک هغه مالداره کوي او څوک چې فضول (يا بے ځايه) خرچ کوي، الله پاک په هغه غريبي راولي.[1]

## د ډوډۍ د يو پوټي احترام

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت عائشه صديقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: يو ځل د دوارو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کور مبارک ته تشريف راوړلو نو (په زمکه باندې ئې) د ډوډۍ پوټے غورځيدلے اوليدلو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه را اوچت کړو، صفا ئې کړو او د خوړلو سره ئې ارشاد اوفرمائيلو: اے عائشه! په ښه طريقه د څيز احترام کوه چې دا څيز (يعنې ډوډۍ) چې د کوم قوم نه تَلې ده نو بيرته نه ده راغلې.[2]

## بے برکتي او لاس تنګي

شيخِ طريقت، اميرِ اهلسُنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: نن سبا هر يو [کَس] د بے برکتۍ او لاس تنګۍ فرياد کوي. څه پته لګي چې د ډوډۍ د احترام نه کولو په وجه دا سزا وي. کيدے شي که څوک مسلمان داسې وي، کوم چې ډوډۍ نه ضائع کوي. هر ځائے د خوراک د سپکاوي زړه سوَزَوونکې نظارې دي، که د واده د طعام اِهتمام وي او که د بزرګانِ دِين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم د نياز تبرکات. ډير زيات افسوس! ❁ په دسترخوانونو او دَرو

[1]... كنز العمال ، كتاب الاخلاق ، الاقتصاد و الرفق فى المعيشة ، جز :3 ، جلد:2 ، صفحہ:24، حديث:5434۔

[2]... ابنِ ماجہ ، كتاب الاطعمۃ، باب النهى عن القاء الطعام، صفحہ:545، حديث:3353۔

باندې په بې دردۍ سره طعام غورځولے شي ❀ د خوراک په وخت د هډوکو سره غوښه او مصالحه پوره نه صفا کيږي ❀ د ګرمې مصالحې سره هم د خوراک ډير اجزا ضائع کولے شي ❀ په تالونو [لوښو] کښې پاتې شوے خوراک او په پيالو، پتيلو کښې د پاتې شوې خوړوا استعمال بيا خلق نه کوي، داسې ډيره زيات خوراک عموماً د کچرې ډبو ته غورځولے شي.[1]

دغه شان په دعوتونو او د واده ښادو په دستورو [تقريباتو] وغيره کښې اوګورئ: ❀ زيات تر خلق په يو ميز باندې ايښودے شوي د يو نه زيات خيزونه په خپل پليټ کښې اچوي خو هغه ټول خيزونه نشي خوړلے. ډير خيزونه په پليټ کښې پاتې شي ❀ بلکه اوس خو د پليټ صفا کولو سره خوراک د تهذيب خلاف ګڼلے شي په دې وجه بعضې خلق قصداً عمداً په خپلو پليټونو کښې د خوراک ښناک خيزونه پريږدي او ځې او صفائې کولو والا په پليټ کښې د پاتې شوي خوراک ښناک خيزونه غورځوي او ضائع کوي ئې. په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د لوئې لوئې روژه ماتو پارټو اهتمام کولے شي مختلف قِسم طعامونه تيارولے شي کوم چې خوړلے شي اوخوري ئې او باقي د کچرې ډبے ته غورځيږي. الله پاک دې مونږ ته د نعمتونو د قدر توفيق را نصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## په ټوله دُنيا کښې د اِسراف يوه سرسري جائزه

افسوس! چې دا حال صرف د يو کور، کلي، ښار يا ملک نه دے بلکه اِسراف اوس عالَمي [يعني د نړي وال] مرض شکل اختيار کړے دے ❀ د اخبار د سروے مطابق صرف په

[1]... فيضانِ سنت ، صفحہ:254 ۔

کراچۍ کښې د واده د هالونو نه د لکونو روپو خوراک غورځولے شي ❁ د يو رپورټ مطابق په ټوله دُنيا کښې هر کال تيار شوے په دريو کښې يوه حصه خوراک ضائع کولے شي ❁ **په يورپ او شمالي امريکه کښې اوسطاً يو کَس د کال 100 کلو ګرامه د استعمال قابل خوراک ضائع کوي.**

کيدے شي چې د دې بے دريغه اِسراف نحوست دے چې په ټوله دُنيا کښې د خوراک کمے، تنګ لاسي، لوږه او غريبي زياتيږي. د مختلفو رپورټونو مطابق ❁ په برطانيه کښې 40 لاکو ته نزدې خلق اوس هم مناسب خوراک نه مومي ❁ په امريکه کښې درې نيم کروړه کسان د داسې کورنو سره تعلق لري د کومو خوراک چې کافي نه دے ❁ په يورپ کښې 4 کروړه 30 لاکه کَسان د مناسب خوراک نه محرومه دي او عجيبه خبره دا هم ده چې دا ټول کسان په هغه معاشرو کښې موجود دي چرته چې نوي سپر مارکيټونه په لکونو ټنه د استعمال قابل بهترين خوراک په کچره کښې بدلوي.

## د اِسراف نه د بچ کيدو ديني او دُنياوي فائدے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د خوراک، اوبو، بجلۍ وغيره د استعمال قابل د هر يو څيز قدر اوکړئ! که چرې مونږه د اِسراف نه د بچ کيدو عادت جوړ کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! آخرت به مو هم ښه شي او په دُنيا کښې به هم برکتونه ظاهر شي. راځئ! خوراک د اِسراف (يعني ضائع کيدو) نه د بچ کيدو په فضيلتونو يو څو حديثونه اورو:

## (1) د بخښنې زيرے

حضرت عبدُ الله بِن اُمِّ حَرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د ډوډۍ احترام کوئ چې دا د آسمان او د زمکې د برکتونو نه ده. کوم کَس چې د

دسترخوان نه غورځيدلې ډوډۍ اوخوري د هغه به بخښنه اوشي.[1]

## د خلقو نه د شرميدو سره نيکۍ مه پرېږدۍ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږه زيات په لوښو کښې خوراک پرېږدو کوم چې د رزق د ضائع کيدو سبب جوړيږي، دغه شان که چرې نوړۍ لاندې پريوځي نو مَعَاذَ الله! د هغې په راخستلو او خوړلو کښې د خلقو نه شرميږو، خو ډير زيات افسوس چې په ګناه کولو نه شرميږو. زمونږه بزرګانِ دِين به د نيکۍ په معامله کښې د چا د شرم او د حيا پرواه نه کوله، د حضرت حسن بصري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نه روايت دے چې يو ځل حضرت مَعقِل بن يَسار رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ډوډۍ خوړله چې د هغوئي د لاس نه نوړۍ پريوتله، هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ را اوچته کړله او صفا ئې کړه او اوئې خوړله. دې ليدلو سره د کلي اوسيدونکو په سترګو اشاره اوکړه (چې دا خومره سپک او ذليل کار دے چې غورځيدلې نوړۍ هغوئي اوخوړله) چا هغوئي ته اووئيل، خدائے دې امير په خير کړي (حضرت مَعقِل بن يَسار رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ هلته د امير او سردار په حيث سره وو) دا کلي وال په ترس نظر اشاره کوي چې هغوئي غورځيدلې نوړۍ اوخوړله او د هغوئي په مخکښې دا طعام موجود دے. اوئې فرمائيل: د دې عجميانو په وجه باندې زه دا نشم پريښودے لکه څنګه چې ما د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي، مونږ ته حکم وو چې کله نوړۍ پريوځي، هغه دې صفا کړے شي او اودې خوړلے شي، د شيطان د پاره دې نه پريښودلے کيږي.[2]

## (2) اولاد د کم عقلۍ نه محفوظ

د الله پاک آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کوم کَس چې د

---

[1]... جامع صغير، صفحہ:88 ، حديث:1426۔

[2]... ابنِ ماجہ ، کتاب الاطعمة ، باب اللقمة اذا سقطت، صفحہ:534، حديث:3278۔

دسترخوان نه د خوراک غورځیدلي پوټي را اوچتوي او خوري ئې هغه د فراخۍ ژوند تیروي او د هغه اولاد او د اولاد اولاد د کم عقلۍ نه محفوظه اوسي.[1]

## (3) د تنګ لاسۍ نه د خلاصي ذریعه

اے عاشقانِ رَسُول! د اِسراف نه د بچ کیدو او د خوراک څښاک د څیزونو د قدر یوه بهترینه فائده دا ده چې د دې په برکت سره د تنګ لاسۍ نه خلاصے موندلے کیږي او لوږه تنده لرې کیږي، نقل دي: زبردست مُحَدِّث حضرت هُدبه بن خالِد رحمۃ اللہ علیہ له یو ځل د بغداد خلیفه مامونُ الرشید د ډوډۍ دعوت ورکړو. د ډوډۍ خوړلو نه پس چې کومې دانې وغیره غورځیدلي وې، مُحَدِّث صاحب هغه یوه یوه لټوله او خوړله ئې. مامون الرشید حیرانه شو او اوئې وئیل. اے شیخ! آیا تر اوسه پورې تهٔ نه ئې موړ شوے؟ اوئې فرمائیل: ولې نه! په اصل کښې خبره دا ده چې ما ته حضرت حَمّاد بن سَلَمه رضی اللہ عنہ یو حدیث بیان کړے دے: **کوم کَس چې په دسترخوان باندې غورځیدلي [د ډوډۍ] پوټي را اوچتوي او خوري ئې هغه به د تنګ لاسۍ [یعني غریبۍ] نه بے یرې شي.**

(**ځکه زه په دې حدیث مبارک باندې عمل کووم.** دا ئې چې واوریدل نو) مامون (ډیر زیات متاثره شو او) یو خادِم ته ئې اشاره اوکړه نو هغه 1000 دیناره (د سرو زرو سِکّې) په رومال کښې د اچولو سره راوړې. مامون دا رقم د حضرت هُدبه بن خالِد رحمۃ اللہ علیہ خدمت کښې د نذرانے په طور پیش کړو. هغوئي رحمۃ اللہ علیہ اوفرمائیل: (اَلْحَمْدُلِلّٰه!) په حدیثِ پاک باندې د عمل کولو برکت سمدستي ظاهر شو (یعني په ناسته زما 1000 دیناره نصیب کیدل په ذِکر شوي حدیث باندې د عمل کولو برکت دے).[2]

---

[1]... کنز العمال، کتاب المعیشة و العادات، الباب الاول، جز:15، جلد:8، صفحه:111، حدیث:40815۔

[2]... تاریخِ اصبهان، جلد:2، صفحه:334۔

## (4) معلومه نه ده چې د طعام په کومه حصه کښې برکت دے

حضرت جابِر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ما رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې فرمائيلو واوريدو چې شيطان ستاسو د هر کار په وخت حاضرېږي تر دې چې د ډوډۍ خوړلو په وخت هم، ځکه که چرې نوړۍ اوغورځيږي او په هغې پسې څه اونښلي نو صفا ئې کړئ او اوئې خورئ دا د شيطان د پاره مه پرېږدۍ او کله چې د ډوډۍ خوړلو نه اوزګار شئ نو ګوتې اوڅټئ ځکه چې معلومه نه ده چې د طعام په کومه حصه کښې برکت دے.[1]

مشهور مُفَسِّرِ قُرآن، حکيمُ الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: که چرې د غورځيدلې نوړۍ سره خاوره وغيره پاک څيز لګيدلے وي نو دا صفا کړئ او نوړۍ اوخورئ او که چرې څه نجاست ورسره لګيدلے دے نو د وينځلو نه پس ئې اوخورئ، که چرې نه وينځلے کيږي نو په سپي پيشو ئې اوخورئ داسې ئې مه پرېږدئ چې په دې کښې مال ضائع کيدل دي او د رَبِّ کريم د راکړي شوي نعمت بے قدري ده. نور فرمائي: پريښودے شوې نوړۍ خو به يا شيطان اوخوري يا د دې په ضائع کيدو کيدو به خوشحاله شي د شيطان دواړه معنې کيدے شي. ځکه هيڅ هم مه پرېږدۍ هر څه استعمال کړئ، که چرې د يو ګس په سر يوه ماشه خوراک هم په لوښي کښې پاتې شي، کوم چې د لوښي د وينځلو په وخت نالۍ ته لاړ شي نو حساب اوکړئ چې په ښار کښې به اته لس لاکه خلق اوسيږي نو دوه ځله څومره خوراک نالو ته ځي، دا فضول خرچي هم ده، مال ضائع کول هم دي، د طعام بے ادبي هم ده، دې د پاره هيڅ هم مه پرېږدۍ لوښے په صحيح طريقې سره صفا کړئ د طعام احترم او ادب هم دا دے.[2]

---

[1]... مسلم ،کتاب الاشربۃ ، باب استحباب لعق الاصابع ...الخ ، صفحہ:807 ، حدیث:2033۔

[2]... مراٰۃ المناجیح ، جلد:6، صفحہ:11 -12 بتغیر قلیل۔

# د امیرِ اهلِسُنَّت محتاط انداز

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ټول کال دا معمول دے چې د طعام خوړلو او چائے، شربت وغیره څښلو نه پس په لوښي کښې اوبه واچوي او ښه ئې اوړقوي او اوئې څښي د پاره د دې چې د رزق یوه ذرّه هم ضائع نه شي، په کال 1423ھ کښې د مدینې د سفر په وخت هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه اولیدے شو چې د ګرمو اوبو په کپ کښې ئې (ټي پیک) واچولو او پتې ئې حل کړلې او د پئیو چینو اچولو نه مخکښې ئې (ټي پیک) ښه نچوړ کړو اوئې ویستلو (ولې عموماً خلق ئې بغیر د نچوړ کولو نه غورځوي او که څوک ئې نچوړوي هم نو د چینو او پئیو د حل کولو نه پس.) کله چې هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه چائے اوڅښله نو عرض اوکړے شو: حُضُور! په دې کښې څه حِکمَت دے؟ ارشاد ئې اوفرمائیلو: ما محسوس کړه چې که د پئیو او چینو اچولو نه پس که چرې (ټي پیک) نچوړ کړے شي نو د پئیو او چینو څه اجزا به په (ټي پیک) کښې پاتې شي، دې د پاره ما احتیاطاً وړومبے نچوړ کړو، د پاره د دې چې څه د کار جز ضائع نه شي.[1]

داسې د احتیاط یوه بله واقعه هم ده چې د دعوتِ اِسلامي ابتدائي وخت وو امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د چائے څښلو په غرض یو هوټل ته تشریف یوړلو. د چائے څښلو نه پس هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په کپ کښې اوبه واچولې او اوئې ړقولې او بیا ئې اوڅښلې. په نزدې ناستو یو څو ځلمو کښې یو د خندا په انداز کښې غږ اوکړو چې **نوره چائے راوړم.** د دې جملے په جواب کښې امیرِ اهلسُنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د شفقت نه ډک انداز کښې سترګې را اوچتې کړلې او هغوئي ته ئې اوکتل او مُسکے شو. داسې ئې ارشاد اوفرمائیلو: زما نورو چائیو ته حاجت نشته. البته ما په کپ کښې اوبه واچولې او دې د پاره مې اوڅښلې

[1]... تنگدستی کے اسباب اور ان کا حل، صفحہ:24۔

چې د رزق څه ذره ضائع نه شي. هغوئي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نور د نيکئ دعوت ورکولو سره ارشاد اوفرمائيلو: داسې ښکلې ښکلې خبرې د دعوتِ اسلامي په هفته واره د سنتو نه ډکه اجتماع کښې د هر زيارت په ورځ د ماښام لمَانځه نه پس ښودلے شي. مونږ هم هلته ځو. تاسو ته هم خواست دے چې تاسو هم په جامع مسجد ګلزارِ حبيب (سولجر بازار کراچئ) کښې د دعوتِ اسلامي په کيدونکې د سنتو نه ډکه اجتماع کښې خامخا شرکت اوکړئ.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! چرته چې د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د قوتِ برادشت [يعني د زغملو توان] او د ښه اخلاقو پته لګي، هلته دا هم معلوميږي چې اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه به د رزق څومره قدر فرمائيلو او د دې معمولې شانتې ذره به ئې هم ضائع کيدو ته نه پريښودله. سُبْحٰنَ الله! واقعي د شيخِ طريقت، امير اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه احتياطونه ته چې اوګورې نو د نيکانو بزرګانو ياد تازه کيږي.

ہیں شریعت و طریقت کی حسین تصویر جو | زہد و تقویٰ کے نظارے حضرتِ عطار ہیں

## د اِسراف نه ځنګه بچ شو؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! تر اوسه پورې چې مو څومره اسراف کړے دے مهرباني اوکړئ! د هغې نه توبه کړئ. چې بيا د پاره د طعام د يوے دانے او د خوړوا د يو څاڅکي اسراف هم اونشي د دې وعده اوکړئ! په الله پاک مې دې قسم وي! په قيامت کښې به د ذرے ذرے حساب کيږي، يقيناً څوک هم د قيامت د حساب تاب نه لري، رښتني توبه کړئ! دُرُودِ پاک اولولئ او عرض اوکړئ: يا الله پاکه! تر ننه پورې چې ما څومره هم اسراف کړے دے د هغې نه او د ټولو ورو او غټو ګناهونو نه توبه کووم او

[1]... پیکرِ شرم و حیا (تذکرۂ امیرِ اہلسنت، قسط:7)، صفحہ:3۔

ستا په عطا کړے شوي توفیق سره به بیا د پاره د ګناهونو نه د بچ کیدو پوره کوشش کووم، یا رَبِّ مصطفٰے! زما توبه قبوله کړه او ما بے حسابه اوبخښه.[1]

صدقه پیارے کی حیا کا کہ نہ لے مجھ سے حساب | بخش بے پوچھے لجائے کو لجانا کیا ہے[2]

✿ د اسراف نه د بچ کیدو د پاره عِلمِ دِین زده کول ډیر ضروري دے، ځکه په دې باره کښې ضروري عِلمِ دِین زده کړئ! دې د پاره د شیخِ طریقت، امیر اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه په مشهور او معروف کتاب کښې **فیضانِ سُنّت** کښې **آدابِ طعام** اولولئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! ډیر زیات علم دین به زده کړئ، د ډیر سنتونو نه به خبر شئ او د اسراف نه د بچ کیدو ذهن به هم جوړ شي ✿ د اسراف نه د بچ کیدو د پاره حساس کیدل ډیر ضروري دي: د الله پاک د راکړے شوؤ نعمتونو قدر په زړه کښې زیات کړئ، په زړه کښې احساس پیدا کړئ، اسراف ګناه اوګڼئ او په سنجیدګئ سره چې د دې نه د بچ کیدو پوخ ذهن جوړ کړئ نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! تر ډیره حده پورې به د اسراف نه د بچ کیدو ذهن جوړ شي ✿ ډیر خلق د فیشن پرستئ، بَل ته د ښودلو او د تکبر په وجه هم د اسراف په ګناه کښې اخته کیږي، داسې خلقو له پکار دي چې د قبر و آخرت فِکر اوکړي، د دُنیا نه تلل، الله کریم ته مخامخ کیدل، دا خبره همیشه یاده ساتئ.

الله پاک دې مونږ له د اسراف او نورو لویو ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکئ ژوند تیرولو توفیق راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ... فیضانِ سنت ، صفحہ:254۔

[2] ... حدائقِ بخشش، صفحہ:171۔

## 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار: هفته وار اجتماع

اے عاشقانِ رَسُول! نیک لمُونځ گزاره جوړیدلو، خپل ژوند بامقصده جوړولو، د الله پاک د ویرې د نعمت موندلو، د نیکو کولو او د ایمان د حفاظت د پاره د غمژن کیدو ذهن جوړولو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي دیني ماحول لمَن اونیسئ او په 12 دیني کارونو کښې هم ښه پوره حِصَّه واخلئ! د دې په برکت به اِنۡ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دین او دُنیا بے شمیره برکتونه به درنصیب شي. په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: **هفته واره اجتماع** هم ده. راځئ په هفته واره اجتماع کښې په پابندئ سره د شرکت کولو ذهِن جوړولو د پاره یو مدني سپرلے اورو:

## د ګناهونو نه په ډک ژوند کښې ښکاره انقلاب

د کراچئ (پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان دے: د دعوتِ اسلامي دیني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما د ګناهونو نه ډک ژوند تیرولو، د دُنیا په مزو کښې مصروف اوسیدل زما معمول وو، د خرابو دوستانو صحبت زه خراب کړے ووم، د دوستانو سره به په شریکه ټوله شپه د ګناهونو ډکه سلسله جاري وه، یو ځل یو اسلامي ورور ما ته د ماښام په وخت د لمُونځ کولو دعوت راکړو، معلومه نه ده چې د هغه په دعوت کښې څه اثر وو چې زه د هغوئي سره د جُمات په لور روان شوم، د ماښام لمُونځ مې اوکړو، د لمَانځه نه پس یو اسلامي ورور د **فیضانِ سُنَّت** نه درس ورکړو، د درس نه فوراً پس اسلامي ورونړو په هفته واره د سُنَّتو نه ډکه اجتماع کښې د شرکت کولو تیاري شروع کړه. یو اسلامي ورور ماله هم په **هفته واره اجتماع** کښې د شرکت کولو ترغیب راکړو، د هغه انداز دومره ښکلے وو چې زه فوراً په اجتماع کښې د شرکت کولو د پاره تیار شوم، بیا ډیر زر د

اسلامي ورونړو سره په شريکه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه ته اورسيدم، هلته مې د سُنَّتو نه ډک بيان واوريدو، په ذِکرُ الله کښې مصروفه شوم، بيا د ژړا نه ډکه دُعا اوکړے شوه. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! د دعوتِ اسلامي د هفته وارې اجتماع او د عاشقانِ رسول صحبت په ما باندې دومره اَثر اوشو چې ما د دُعا په وخت په ژړا ژړا د خپلو ګناهونو نه توبه کړه او بيا د پاره مې په نيکو کښې د ژوند تيرولو پوخ نِيَّت اوکړو، په ما باندې خوندونه راوريدل، د اجتماع نه بيرته راتللو نه پس ما د لمُونځونو پابندي شروع کړه او د نيکو نه ډک ژوند تيرولو کښې مصروف شوم.

اسی ماحول نے ادنیٰ کو اعلیٰ کر دیا دیکھو! | اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کر دیا دیکھو!

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دارُ الاِفتّاء اهلسُنَّت ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! دعوتِ اسلامي د عِلمِ دين په فيضان عام کولو کښې مصروف دے، د دعوت اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت) دے.

په دې ايپلي کيشن کښې به تاسو ته ميلاويږي: ډير زيات مذهبي او معاشرتي سوالونو ليکلي فتوے ❀ د عقائدو په باره کښې احکام ❀ د قرآن او حديث په باره کښې احکام ❀ د اوداسه، غسل او د ناپاکئ احکام ❀ د لَمانځه په باره کښې مسئلے ❀ د مَړي په باره کښې مسئلے ❀ د دعوتِ اسلامي د مفتيانو صاحبانو اهم تربيتي او معلوماتي ويډيو کليپس او بيانونه ❀ په معاشرتي او مذهبي اړخونو باندې د لار ښودنې مختلف آرټيکلز او کتابونه ❀ د مفتيانو صاحبانو په مختلفو علمي، تربيتي او شرعي معلوماتو مشتملې

سلسلے ❁ تجارت کورس، د فرض علوم کورس ❁ او ډير څه. دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انستال کړئ! پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشَاهِ نبوت صَلَّی اللہ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عمامه [پټکے] شريف په سر کول سُنَّت دے

**2 فرامينِ مصطفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **(1)** عمامه په سر کوئ! ستاسو حِلم به زياتيږي.[2] **(2)** د عمامے سره 2 رکعته بغير د عمامے نه د 70 رکعتونو نه افضل دي.[3]

**اے عاشقانِ رَسُول!** عمامه شريف په سر کول د **مصطفٰے** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت** دے ❁ زمونږه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هميشه عمامه شريف په ټوپۍ باندې تړله ❁ په سفر او قيام کښې به هم د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سر مبارك باندې عمامه

---

[1]... مشکوٰة،کتابُ:الْاِيمان،بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔
[2]... مستدرک، کتاب:اللباس، جلد:5، صفحه:272 ، حديث:7488۔
[3]... فردوس الاخبار، جلد:2صفحه:265 ، حديث:3233۔

شریف روښانه پړقیدله❁خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په عمامه شریف کښې شمله پریښودله کومه چې به کله په یوه اوګه مبارکه باندې، کله د دواړو اوګو مبارکو په مینځ کښې وه ❁ خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په مختلفو موقعو باندې د مختلف رنګ عمامه شریف استعمال فرمائیله.

د عمامې په سر کولو فضائلو او د دې باره کښې د تفصیلي معلوماتو د پاره د مکتبة المدینه کتاب " **عمامه کے فضائل** " اولولئ!

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المَدینه **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حِصّه 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه **مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي** دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي په قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے

سیکھنے سُنّتیں قافلے میں چلو
ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعے او زيارت مينځئ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

## ﴿3﴾د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

1... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧
2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩
3... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

ئي هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئي هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئي چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب    صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠
2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ٢٥٤/١٠، حديث:١٧٣٠٥
3... تاريخ ابنِ عساكر، ١٥٥/١٩، حديث:۴۴١۵